# شریعت
ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان


اوقات افطار و سحر به افق کابل

افطار: ٦:٠٦
سحر: ٤:٣٠

## افغانستان بانک له نړیوالو مالي او بانکي بنسټونو سره غوره اړیکې غواړي

د افغانستان بانک سرپرست رییس ملا هدایت الله بدري د افغانستان لپاره د ایټالیا هېواد له سفیرې نتالیا او مل پلاوي سره کتلي دي. په دې لیدنه کې د هېواد د اقتصادي وضعیت، د افغانۍ د ټیکاو پر سببونو، د بانکي سکتور پر وضعیت، اسلامي بانکوالۍ پر پراختیا، مالي شمولیت او یو شمېر نورو موضوعاتو بحثونه شوي دي. په دغه لیدنه کې ښاغلي بدري ویلي، چې د افغانستان بانک د قوانینو او مقرراتو په رڼا کې د نړۍ له ټولو هېوادونو، مالي او بانکي بنسټونو سره د غوره اړیکو غوښتونکی دی او په تېرو څه باندې دوه نیمو کلونو کې یې دا اړیکې په خورا ښه توګه پاللي دي. ... ۷مخ


د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ٤٠٩ ګڼه / چهارشنبه ۱۰ رمضان‌الکریم ۱٤٤٥ هـ.ق / اول حمل ۱٤٠۳ هـ.ش / ۲۰ مارچ ۲۰۲٤ میلادي


مولوي عبدالکبیر:

## کابل کې د اذربایجان دسفارت پرانیسته تاریخي ګام دی



د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر د اذربایجان له سفیر الهام محمدوف سره په کتنه کې کابل کې یې د اذربایجان د سفارت پرانیسته غوره تاریخي فرصت بللی دی.
سفیر الهام محمدوف ویلي: هیواد یې غواړي د اقتصاد، کرنې، تېلو او ګازو تر څنګ د ټرانس کسپین کوریډور په برخو کې له افغانستان سره خپلې همکارۍ زیاتې کړي خو په دې برخه کې یې هیواد د اسلامي امارت هراړخیز ملاتړ ته اړتیا لري.
مولوي عبدالکبیر الهام محمدوف ته د ښه راغلاست ترڅنګ په کابل کې د نوموړي د نوي ماموریت او سفارت پرانیستلو مبارکي ورکړه وې ویل، هیله من یم ... ۷مخ

## افغان او ازبیک پلاوو د اقتصادي اړیکو د پیاوړتیا په موخه ګډه ناسته کړې



ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت وايي چې د اسلامي امارت او ازبیکستاني پلاوي ترمنځ د اقتصادي اړیکو د پیاوړتیا په اړه ګډه ناسته شوې. دغه غونډه چې د بلخ ولایت په حیرتان کې شوې د ریاست الوزراء د اقتصادي معاونیت، صنعت او سوداګرۍ، مالیې، بهرنیو چارو، کانونو او پټرولیم وزارتونو او اوسپنې پټلۍ اداري پلاوو او ... ۷مخ

## د مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ د وظیفوي لاسوهنې د مخنیوي غونډه وشوه

د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله له لوري د امارتي ادارو ترمنځ د وظیفوي تداخل مخنیوي لپاره د مؤظف پلاوي غونډه نن د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ ترسره شوه.
ارګ ویلي په دې غونډه کې چې د مؤظف پلاوي غړو هم په کې ګډون درلود، د یو شمېر امارتي ادارو تر منځ د وظیفوي تداخل د لمنځه وړلو او مخنیوي ترڅنګ د دوی پر یو شمېر موضوعاتو او غوښتنو هر اړخیز بحث او ارزونې ترسره او په اړه یې اړینې پرېکړې وشوې.

## د بغلان د اطلاعاتو او کلتور ریاست له ۱۳ ښوونیزو بنسټونو سره د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک کړل

د بغلان د اطلاعاتو او کلتور ریاست، د ځوانانو آمریت ځوانانو ته د استانیاوو د رامنځته کولو په موخه له ۱۳ تحصیلي او ښوونیزو بنسټونو سره د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک کړل. د یاد ولایت د ځوانانو چارو آمر قاري محمد عبدالرحمن وایي، ۷مخ



اتاق تجارت و سرمایه گذاری:

## محصولاتی که در افغانستان تولید می‌شود نباید از بیرون کشور وارد گردد

موسسه دیده بان بازار افغانستان در همکاری با انجمن صنعتکاران این کشور دومین جشنواره ده بهترین برند افغانستان را برگزار و از ده برند شناخته شده کشور تقدیر نمود.
دراین جشنواره که مقامات امارت‌اسلامی و نمایندگان ده برند افغانستان حضور داشتند بر گزاری هم‌چون برنامه‌ها را در رُشد سکتور خصوصی و معرفی محصولات کشور به بازارهای جهان موثر دانستند.
یونس مومند معاون اتاق تجارت و سرمایه گذاری افغانستان در این جشنواره اشاره نموده گفت که برای رسیدن به خودکفایی کشور نیاز به مبارزه است و خوشبختانه این مبارزه از سوی تاجران و مردم افغانستان شروع شده است. مومند اشاره نمود که مردم باید ... ص۷




## برای محاکم لوگر تعمیر ساخته می‌شود

تلاش ها برای ساخت تعمیربه محاکم درولسوالی های لوگر، آغازشده است.
به اساس حکم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله، برای دفاتر اداری محاکم ولسوالی‌های شش گانه ولایت لوگر تعمیر اداری ساخته می شود.
برای تطبیق این حکم به ریاست الحاج شیخ ضیاءالرحمن مدنی والی لوگر، نشست برگزارشد که در آن علاوه از مسوولین محاکم مرکز و ولسوالی‌ها، شماری روسای ادارات ذیربط واحدهای دومی نیز شرکت ... ص۷


پرده از چهره جاهلیت عصر برداریـد ۳

د روژې ځانګړتیاوې ۴

بهار فصل رویش و سرسبزی ۴


## دو شعبه مدرسه دینی بی بی زهرا ر (ض) در دایکندی افتتاح شد

دو شعبه مدرسه دینی اناثیه «بی بی زهرا رضی الله عنها» در شهر نیلی مرکز دایکندی افتتاح شد.
به گزارش آژانس باختر؛ در مراسم افتتاحیه این دومدرسه، قاری عنایت الله سهار رئیس معارف دایکندی، در صحبت، ایجاد مراکز تعلیمی را گام نیک در راستای تعلیم و تربیه سالم اولاد وطن دانست و در رابطه به اهمیت مدارس و مکاتب در اصلاح جامعه، معلومات داد. وی گفت که هر کدام این مدارس در یک وقت ظرفیت ۲۰۰ شاگرد را دارند. علما و باشندگان محل از افتتاح این مدرسه اظهار خوشی کردند و از توجه رهبری وزارت معارف در قبال فراهم سازی زمینه آموزش به فرزندان شان، به قدردانی یاد کردند.

## رهبری خوست بر محافظت بیشتر از معادن در آن ولایت تاکید کرد




رهبری ولایت خوست درنشست کمیته محافظت از معادن آن ولایت بر جلوگیری از استخراج خود سر و قاچاق معادن در آن ولایت تاکید کرد. دفترمطبوعاتی وزارت معادن و پترولیم با نشر این خبر گفته است: دومین نشست کمیته محافظت معادن ولایت خوست تحت ریاست مولوي محبوب شاه قانت معاون والی و با شرکت رئیسان اداره های محلی آن ولایت برگزارشد. دراین ... ۷مخ

## عاید چهل وسه میلیونی اداره‌ی ترافیک سمنگان



اداره ی ترافیک سمنگان، چهل وسه ملیون افغانی درجریان سال جاری، عاید داشته است.
این عاید، ازدرک توزیع جواز سیر وجواز رانندگی به شهروندان، به دست آمده است. سمونمل قاری محمد نذیر سعد، مدیرترافیک سمنگان به آژانس باخترگفت: این اداره، درجریان سال جاری، چهل وسه ملیون ودوصدو پنجاه وشش هزارو چهار صدو چهل افغانی عاید گرد آوری وبه خزانه ی دولت سپرده است.
وی میگوید: این عواید از درک ثبت وراجستر جواز سیر برای واسطه های دست پاکستان و زرنج بدون اسناد، توزیع جواز راننده گی و توزیع فورم جواز برای متقاضیان راننده گی، گرد آوری و به خزانه حکومت واریز شده است.
وی از روند شفافیت گرد آوری پول اطمینان داده گفت که این اداره تلاش می کند در سال پیشرو عواید این اداره را بیش از این نیز افزایش دهد.

سرمقاله

## د هېواد خوندیتوب ګڼې لارې چارې غواړي

لکه چې ټول پوهېږو د الله تعالی د هر بنده لپاره دومره توته امن ځمکه خامخا په کار ده چې په داډه زړه د خپل خالق او مالک عبادت پکې وکړی شي، همدغسې چېرته چې بیا د مسلمانانو یو ټولګی اوسي نو یو جومات ته اړتیا لري او بیا د یو لوی امت او قوم لپاره اړینه ده چې د خپلو ټولو دیني شعایرو او مراسمو تر سره کولو په نیت د خپلې پراخې سیمې او هېواد - امنیت ونیسي او د بې دینو لښکرو له تاړاکونو یې خوندي وساتي. خو له دې سره سره چې د نړۍ پرمخ دا وخت نږدې دوه میلیارده مسلمانان ژوند کوي، له بده مرغه پر شپېتو جلاجلا ملتونو او هېوادونو وېشل شوي او زیاتره یې سختو خپل منځي دښمنیو کې هم ښکېل دي. په هر صورت اوس موږ ته دا راپېښه ده چې د افغانستان په نامه یوه توته ځمکه کې استوګنه لرو چې موږ او زموږ پلرونو او نیکونو یې د بې مثاله قربانیو په ګاللو دفاع کړې او دادی په نتیجه کې یې څښتن تعالی موږ ته یو داسې فرصت او موقع په لاس راکړې چې سر، دین، ناموس، عزت او مال مو خوندي او بشپړ امنیت سره هم خپل عبادتونو پکې ترسره کولی شو او هم په خلاص مټ نورې ژوندنۍ چارې. بنا پردې اوس نو زموږ ټولو ایماني او انساني مکلفیت دادی چې د خپلې همدغې خاورې د امنیت او دفاع لپاره د وخت او زماني له غوښتنو سره سم مناسب تدابیر ونیسو. مثلاً ښه پاخه مسلکي نظامي عسکر وروزو، د اغېزمنو او کاري وسلو لکه توغندیو او بې پیلوټه ... ۷مخ

# پرده از چهره جاهلیت عصر بردارید

**احمد**

برای آن عده از مسلمانانی که در مطبوعات کشورهای اسلامی، قلم می زنند، لازم اسـت که چهره واقعی امریکا این ابلیس پر زرق و برق را بملا سـازند و امت اسـلامی به ویژه جوانان مسـلمان را در شناختن این چهره کریه که نماینده ی تمام خصوصیات جاهلیت عصر حاضر است، یاری رسانند.

با نهایت تأسف باید اذعان نمود، این دشمن مکار در بسیاری از بلاد اسلامی هنوز در خانه، خانه مسلمانان رخنه کرده و حتی هنوز هم، مزدوران امریکا بر سرنوشـت برخی از کشورهای اسلامی، حاکمیت می کنند و به نمایندگی از این امت در محافل جهانی سخن می گویند، اما واقعیت امر، سقوط حتمی و سـریع این فرو مایگان را نوید می دهد، همچنان فریادهای خروشان زنان، کودکان و انسان های گرسنه در سرزمین فلسطین به ویژه نوار غزه نیز رهایی انسان های مظلوم به ستمدیدگان تاریخی را از بند جباران قرن مژده میدهند.

اکنون اخبار مبارزات آزادی خواهی و حق طلبی، جوانان پا برهنه و گرسنه‌ی غـزه که روزه ماه مبارک رمضان را بـه دهن دارند و اصلاً از خانه، خانواده، والدین، فرزندان و اعضای خانواده خبری ندارند، سرخط خبری رسانه های واقعگرا را تحت الشـعاع قرار داده اسـت، در محافل و مجالس رسـمی و غیررسـمی جهان، حرف و حدیث از دلاوری و شـجاعت مبارزان بر حق فلسـطین، طنین انداز اسـت و حتی گرد همایی های وسـیع و گسترده در سراسـر جهان به دفاع از فلسـطینیان ادامه دارد، اما رژیم جبار و خون آشام اسـرائیل و حامیان جهانیش که خود را حامی و مدافع دروغین حقوق بشر میدانند، خاموشی اختیار کرده و نظاگر اوضاع اند که عواقب این جفاهایشان به کجا می انجامد؟

هر چند این صداها و حرکت های مدنی تا کنون کارا، واقع نگردیده و جامعه جهانی و قدرت های پوشـالی نیز به گوش هایشان، پنبه ی غفلت گذاشته و صرف نظارگر اند، اما بلند شـدن صدای مسلمانان و آگاهان غیر مسلمان در نقاط مختلف جهان به دفاع از مردم فلسـطین، در حقیقت انرژی و انگیزه ی به مردم فلسطین می دهد، این انگیزه است که رژیم صهیونیستی با تمام ساز و برگ نظامی و حامیان قدرتمند جهانی اش، در لجن زار، غزه بند افتاده و به خاطر تسکین و آرامش خاطر ظاهری و روحیه دادن به سربازان فراری شان، هر روز سـخن از برنامه ها و پلان هـای بعد تصفیه غزه به زبان می آورند، اما خداوند عزوجل را سپاسـگزاریم که برنامـه ها و توطئه های کورکورانه ایـن جاهلین قرن به یاری پروردگار و شـهامت مجاهدیـن غزه، دفع و به منصه اجرا قرار نمی گیرد که این باعث شـده تا دیوانه وار به زنان، کودکان، همچنان زخمیان در شفاخانه ها و تجمعات مردمی حمله ور شوند، جنایات ضد بشری را مرتکب گردند.

بلی این نمونه هایی از اثرات پایدار و تلاش های پیهم، مجاهدین غزه است که امروز ما شـاهد لجام گسـیختگی نتانیاهو هستیم و ان شأالله دیر نخواهد بود که به فضل خداوند (ج) و مجاهدت فلسطینیان، جاهلیت قرن که هدف شان به بند کشیدن سرزمین های اسلامی است، سرنگون و به ابدیت خواهند پیوست.

بناءً امت اسـلامی باید جهاد در برابر رژیم صهیونیستی و حامیان جهانی اش را، رسـالت ایمانی و تاریخی خود دانسـته از هر راه ممکن، تلاش کنند تا به برادران فلسـطینی شان کمک و یاری رسانند، زیرا این تنها غزه نیست که مسـلمانان تحقیر و ارزش های انسانی شان از جانب رژیم سفاک و حامیان شـان، مورد، اهانت قرار می گیرد، بلکه بعد جنـگ جهانی دوم این امریکا است که با یکه تازی بر جهان معاصر به ویژه کشورهای اسلامی و مسلمانان آزاده، مـی تازد و فاجعه به بار می آورد، اما خداوند (ج) را شـاکریم که در مقابل ایمان مسـلمانان پا برهنه، شکسـت فاهش را نیز تجربه می کند، اما افسوس که پند نمی گیرد.

بنابراین اکنون زمان آن فرا رسـیده که امت اسلامی به مسؤلیت ها و وظایف خود در جامعه بشـری عمل کنند، بدیهی است که سر انجام، پیروزی از آن کسـانی است که بر اساس فطرت حرکت می کنند و جز حاکمیت دین خدا به هیچ چیزی دیگری راضی نمی شوند.



# ا.ا.ا سیاسي، که فکري حرکت؟

**احمد منیب**



ښایي وخت ناوخت له ډېرو سره دا پوښتنه پیدا کېږي چې ا.ا. اسیاسي حرکت او که یا هم کوم فکري خوځښت دی، چې ډېری لا هم په دې فکر دي چې اسـلامي امارت ته کوم نوم ورکړي؟ یو شـمېر شـنونکي په دې آند دي چې امارت یو اصلاحي او دیني حرکت دی، خو ځینې یې د یوه اسـلامي او سیاسي فکر نوم بولي او نور بیا وایي چې امارت یو حنفي مذهبي خوځښت دی، چې د شر او فساد ختمولو او شریعت د تطبیق په موخه تاسـیس شـوی دی. په دې هکله له خپل خام طبیعت او خیال سره دا پوښـتنه په لاندې ټکو ځوابوم.

اسلامي امارت یو داسـې حرکت دی چې خپل ارزښتونه د دیني مقدسـاتو په خوندیتابه او د ملي ګټو په رڼا کې ساتي، خـو په فکري برخه کې د کومې ځانګړې برنامې د نشـت له امله، د هـرې ایډیا خلک په کې خپلې هیلې او خوبونه د خپل میل مطابق تعبیروي. په دې معنا، اسلامي امارت نه داسې یو خوځښت دی لکه حزب التحریر چې هوا ګزوي او پر ټوله نړۍ خیالي سلطنت مخته وړي؛ نه هم داسې بهیر دی لکه اخوان المسـلمین چې د ځانګړې ګوندیزې تګلارې او تفکر د ترویج تر څنګ، سیاسي موخې هم تعقیبوي؛ نه هم د داعش په څېر توندلارې ډله ده، چې خلک د خپلې عقیدې سره د مخالفت له امله د ارتداد تر پولو په رسیدو سره واجب القتل بولي او نه هم د سیکولرو پرګنو غوندې منځلاري دي چې د یو مخیزه آزادیو تعمیل ورته نوښت برېښي او د خپلې نظریې مخالفې پرګنې له عصري پرمختګونو ناخبره او منفي ګرا بولي. د پورته تشریح له مخې ا.ا.ا د ټولو ډلو ټپلو او فکري، سیاسـي او عقیدوي بنسټونو خلاف یو ځانګړی حرکت ده، چې نه خپلې لاسـته راوړنې په خلکو احسان بولي، نه هم د ځانګړي لیکل شوي منشور په تعمیل خلک مکلف بولي؛ بس یوازې د هغه څه ترویج غـواړي چې مذهبي متونو او دیني نصوصو په مختلفو مواردو کې پرې ترکیز کړی وي. زما په آند اسـلامي امارت یو سیاسي او اصلاحي حرکت دی، چې په سخت وخت کې یې آن مخالفو ولسونو دفاع ته کار ویلي وای. دا چې اوږد جهاد یې وکړ او په لوی شمیر قرباني ورکړل شوې؛ خو لا هم د هغو ژوندي ساتلو لپاره د جهادي موزیم د احیاء په هکله غور نه دی کړی، د خپلو تیرو جهادي فعالیتونو انځوریز او لیکنیز ارشـیف نه لرو، د جهاد د لاسته راوړنو په هکله مستند داستانونو باندې کار نه دی پیل شوی؛ د خپلو شهیدانو سوانح، خاطرې او جهادي انګیزې مو خلکو ته نه دي رسولې، پر جهادي فکر د یوه ښوونیز نصاب او فکري صنفونو جوړښـت نه تر سترګو کېږي؛ آن په واک کې له شته رسنیزو آدرسونو څخه د فکري استعمار د مخنیوي په هکله د مالوماتي خپرونو لړۍ نه لرو؛ ښایي هغه څه وي چې موږ ته دا وانمود کوي چې اسـلامي امارت یعنې یوازې سیاسي خوځښت دی؛ خو د ټولنې د اصلاحي ترمیم لپاره د معروفاتو د اقامې او د منکراتو د مخنیوي هڅې هم نه پرېږدي. خو دلته له ترمیم ورآخـوا تازه معماري ته هم اړتیا ده، هغه ذهنونه او افکار چې په تېرو لسـیزو کې سیکولرو ګردونو وځپل، اوس یې په هکله د تلپاتې اصلاح لپاره د سوچې ژبه او د ټوپک خوله حل لاره ده؟ ښـایي ځواب قطعا «نه!» وي. موږ چې په دوه کلن تاج وتخت کې د اصلاحي معماري لپاره هڅه ونه کړه. نو که سبا خدای ج مکره بیا د ناڅاپي وریځو لړۍ را خپره شوه، نو هغه پروني ناجي ملت ته به بیا کومې سترګې لرو، چې په ځان اور زغملو ته تیار وو، خو پر موږ یې اغزي نه لوریدل؟!

اوس چې ا.ا.ا د هیواد واکمن دی او د علیاء مصالحو په هکله د پرېکنده ګامونو سترګې همدوی ته ور اوړي، باید هغه څه چې د وخت تقاضا ده، په خورا متانت سـره تر سره کړي او هغه وزارتونه چې په فکري، اصلاحي،، ښوونیزو، سیاسي او دیني برخو کې مسـؤلیت لري، مکلف وګرځول شي، څو د مسـؤلیت په اړوند برخو کې آن د تېرو دوو کلنو قضایي هم راوړي او مخته هم توند ګامونه کېږدي. تاسـو وګورئ همدا اوس په کلیو او ولسـونو کې هغوی چې د کوم جهادي لیډر پاتې شوني ژوندي دي، لا هم اړوند حزب ته وفادار او خپل لوري ته په هڅولو سـره نفوذ لاپسې پراخوي، که په نړیواله کچه یې واخلو، د ځینو سیاسي او فکري بهیرونو خوځښت ډېر تیز وي، لا مـل همدا ده چې دوی پر خپلو خلکو فکري کار کړی وي. هوکې؛ له فتحې وړاندې همداسـې مسـتعد وه، فرهنګي او فکري برخـه مو همدومره پیاوړې وه او ولس تر دې زیاته راسـره اوږه وړله؛ خو اوس همغسـې نه د منبر خلک مسؤلیت آدا کوي، نه د دفتر او نه هم د ښوونیزو اداراتو مسؤلین...

ستونزه په دې کې ده چې دوی ته تر فتحې وروسته همغسې سوژې نه دي ورکول شوې، نه همغه اړتیاوې ور په ګوته شوې، چې له امله یې باید په دې برخه کې فعالانه رول ولوبوي. په وروسـتیو کې؛ هیله ده چې د ولسونو د فکري خپلونې لپاره ا.ا.ا یوه منظمه ستراتیژي جوړه کړي، څو یې پر مټ د حزب التحریر، وهابیانو، باغیانو او نـورو افراطي ډلو ټپلو د فکري خوځښتونو مخه ډب او له ا.ا.ا سره د یوې اړتیا له مخې نه.؛ بلکې د یوه مثبت فکر له مخې ودرېږي. که موږ د اصلاحي برخې ترڅنګ، د فکري برخې لپاره هم پر خپل مسـؤلیت ترکیز وکړو، نو هغو ولسونو چې د جمهوریت پر مهال به یې د پردیو افکارو ترویج په پټه خوله زغملو، نن به هم د معروفاتو اقامه او منکراتو ازاله خپل مسـؤلیت وبولي، نه د حکومتي ارګانونو او د ولسـي فکري ملاتړ له برکتـه به بیا هېڅ پردی اشغالګر قوت د نظام د ستنو د نړېدو فکر ونه کړي.

# دفاعي سیستم دې قوي شي

**منیر فاروقي**

دا اول، دوهم او دریم ځل نه دی، چې د ګاونډ څخه زموږ په خاوره، په ډېرې بې سـترګۍ حمله کېـږي او زموږ بې ګناه هېوادوال او راغلي مظلوم وزیرسـتاني مهاجر، چې د ګاونډي هېواد له ظلمونو او وحشتونو څخه تر پوزې راغلي او زموږ هېواد ته یې پناه راوړې؛ بمباروي او شـهیدانوي. لکه څرنګه یې چې د همدې میاشـتې دوشـنبې په شپه د پاکستان اجیر حکومت د افغانستان په ځینو ولایتونو هوایي بریدونه وکړل، چې د تېر کال په څېر یې بیا د وزیرسـتاني کډوالو کورونه په نښه کړل، چې د دریو ماشومانو په ګډون یې شپږ بې ګناه وزیرستاني مهاجر شهیدان کړل. دغه برید د ټولو اسلامي او بین المللي قوانینو خلاف او د افغانستان په حریم په ډېرې سپین سترګۍ تیری او تجاوز دی.دا منم، چې افغانانو د خپلو غوښو او هډوکو په ټوټه، ټوټه کولو سره دا هېواد د کفري امریکایي ځمکني اشغال څخه ازاد کړ؛ خو دا له هیچـا پټه نه ده، چې هوا مو اوس هم د کفارو له خوا اشـغال ده او هره شپه د کفارو څارګرې تیارې زموږ د خاورې په سر چکرې وهي او له هوا څخه مو څاري. موږ خـړ خړ ورته ګورو او هېڅ نشـو کولی. دا زموږ د ضعف نقطـه ده، ځکه دې هېواد ته هیچا داسـې خدمت نه دی کړی، چې د دښـمن هوایـي برید په مقابـل کې دفاعي سیستم جوړ کړي، هر څوک راغلي، خپل جېبونه یې ډک کړي او په مخه تللي دي. ځینې خو لا داسـې خلک هم تېر شـوي، چې شته وسـایل یې په نورو خرڅ کړي یا هم له هېواده تښـتولي او ګاونډیو هېوادو ته یې سپارلي، لکه د تېرې شـرمېدلې ادارې واکمنانو، چې په لسګونو الوتکې ګاونډي هېواد ته وسـپارلې.راځم خپلې موضوع ته، زموږ هوایي دفاعي سیسـتم صفر دی او که په پوره معنی دفاعي سیسـتم ته زیر شـو؛ نو د ټول هېواد دفاعي سیستم مو له هېڅ سـره برابر دی، ځکه نه داسې توپونه، ټانکونه او لرې واټن ویشـتونکي مزایل لرو، چې د دښمن مراکز په نښه او لمنځه یوسو. نه داسې جنګي جیټ الوتکې، څرخکې او بې پیلوټه څارګرې طیارې لرو، چې دښـمن پرې تعقیب او له یادو جنګي وسـایلو په استفادې دښمن ته د څپېړې جواب په سـوک ورکـړو، یعنې په هر لحـاظ مو دفاعي سیستم خراب دی. یوازې په قوي ایمان هم نه کېږي، چې د هېواد دفاع وکړو، ځکه نن سـبا د سـاینس او ټکنالوژۍ وخت دی، دښـمن تا ته مخامخ جنګ ته نه راځي، په یو قـوي فولادي زغره وال ټانکونـو او الوتکو کې راځي او تا لمنځه وړي. یوازې په قوي ایمان موږ نشـو کولی، چې د الوتکو سره وجنګېږو. جنګ ته رسول الله هم تیاری نیوه، خپلو صحابه وو ته به یې د عقیدې ترڅنګ د جنګ وسایل هم ورښـودل او دې ته به یې هڅول، چې تاسو د اسلحو اسـتعمال زده کړئ او آن تر دې چې یـوه ډله صحابه یې د منجنیق ویشـتلو لپاره نورو سـاحو ته ولېږل، چې تاسو منجنیق استعمالول او جوړول زده کړئ. ځکه که په یوازې قوي ایمان کېدلی، نو رسـول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو به د خندق په غزا کې د مدینې منورې څخه د دفاع په خاطر خندق/کنده نه کېندله یا به رسـول الله د احـد په غزا کې د ځان دفاع لپـاره دوه زغرې نه اچولې.د امارت مشران باید خپل ټول پام د هېواد د ابادۍ تر څنګ، د هېواد دفاع ته کړي. د هېواد په سـطحه داسـې کدرونه پیـدا او وروزي، چې د هېواد دفاعي سیسـتم کې رغنده رول ولوبوي او وکړی شـي داسې وسـلې جوړې کړي، چــې د ځمکې او هوا څخه دفاع پرې وشـي. همدارنګه باید د امارت مشران داسې کسانو ته ټولې اسانتیاوې محیا کړي، تر څو په اسـانۍ سره، یاد اشخاص خپلو اهدافو ته ورسـېږي او داسې وسـلې جوړې کړي، چې په هېواد د حملې په صورت کې دفاع وکړی شـو.تر څو چې موږ دا تـوان او طاقت پیدا کوو، چې وسـلې او نور مهمات دې جوړ کړو؛ تر هغې باید څه وکـړو؟ لاس تر زنې کېنو. نه باید هڅه وکړو په یوه نه، یوه طریقه له نورو هېوادونو سـره رابطه جوړه او داسې وسـلې وپېرو، چې د هغې په وسیله زموږ په خاوره ګرځېدونکې د دښمن بې پیلوټه او څارګرې طیارې پرې رانسکورې کړو یا داسې رادارونه تر لاسه کړو، چې کله دښـمن زموږ خاورې ته داخل شي، موږ ته خبر راکړي.د امارت له مشـرانو څخه مـې هیله ده، چې خپل سرحدي ځواکونه په رنګارنګ اسلحو سمبال او وروزي، ددې تـر څنګ یې عقیدوي روزنه هم په کار ده همدارنګه دوی ته د خپـل مقام او منزلت په اړه هـم خبرې کول په کار دي، تر څو د وسـلو ترڅنګ په کلکه ایماني جذبه د هېواد او اسـلام څخه دفاع وکړي.قدرمنو ورونو! که مو د خپل تعلیم یافته قشـر او لیاقت لرونکو ځوانانو څخه کار واخیسـت او تشـویق مو کړل؛ لرې به نه وي، چې هېواد به مو د سـیالانو سـیال او د هېواد دفاعي سیستم به مو تر امریکا، روس او چین څخه غوره او بهتر وي.

# د روژې ځانګړتیاوې

محمدعبدالعلي ترابي



– روژه د اطاعــت او عبــادت میاشــت ده ، په روژه کــې د عباداتو بدله تر نامعلوم شــمېر رســېږي ، په حدیث قدســي کې راځي، د ابوهریره رضي اللــه عنه څخه روایت دی چــې نبي اکرم صلی الله علیه وســلم وفرمایل : ژبــاړه : (( اللــه جل جلاله فرمایي چــې ټول عملونه د بنــي آدم د هغه لپــاره دي، یوازې روژه ده، چــې هغه زما لپاره ده، او بدلــه یې زه په خپله ورکوم))

د حدیث قدسي مراد :

امــام قرطبي رحمة الله علیــه وایي : چې په دنیا کې انســانانو ته د عباداتو د بدل اندازه ښــکاره شوې او هغه یوه نیکي د لســو په بدله ده او یوه د اووه ســوه په بدله هم ده الا ماشاء الله ، یوازې روژه ده چې د هغه بدله الله جل جلاله په خپله بغیر د اندازې او د حســاب ورکوي ـ

– د روژې میاشــتې بلــه ځانګړنه دا ده چې په دې میاشــت کې د الله جل جلا لــه کلام – قران کریم – په امام الانبیاء صلی الله علیه وســلم باندې رانازل شوې .

ـ د دې میاشــتې د عظمت له وجې سترو شــیطانانو ته ځنځیرونه ور اچول کېږي.

دلته یو ســوال پیدا کېږي چې په روژه کې ټول شــیطانان ترل کېږي بیا ولې خلک ګناهونو ته زړه ښه کوي ؟!

ځواب دادی که څه هم په روژه کې د شــیطانانو پښــو ته زولنې اچول کېږي او نور په دوی کې د بندګانو د بې لارې توان نه وي، خو د انســان بد عادت د دی جوګه شي چې انسان پر ګناه مجبوره کړی ، ځکه عادت چې شیطاني جوړ شي بیا د شــیطان نه بغیر هم انسان ګناه ته زړه ښه کوي.

ـ د دې میاشــتې بلــه ځانګړنــه دا ده چې د بندګانو لپــاره د جنت دروازې خلاصېږي.

ـ د دې میاشــتې بله ځانګړنه دا ده چې بندګان د جهنم له اور نه آزادېږي.

– د دې میاشــتې بله ځانګړنه دا ده چې نفل عبــادات په ثواب کې د فرضو عباداتو ســره برابرېــږي، نو موږ ته پکار ده چې نفلونــه زیات کړو او د تېرو میاشتو د لمونځونو قضایي هم راوړو.

– د دې میاشــتې بله ځانګړنه دا ده چې د ورځې له لوږې او تندې وروســته د روژه ماتي په وخت انســان یو رکم خوشحالي احساسوي.

– د دې میاشــتې بله ځانګړنه دا ده چې په یوه روژه نیولو ســره د انسان ټول ګناهونــه رژېږي ، ځکه د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صلي الله علیه وســلم وفرمایل : ((چا چې روژه د ایمان په حالت کې ونیولــه او د ثــواب تمه یې په الله جل جلاله پــورې تړلې وه، نو د هغه ټول مخکېني ګناهونه معافېږي))

– د دې میاشــتې بله ځانګړنه دا ده چې خالص روژه نیول د جنت له اسبابو ګڼــل کېږي ، لکه څنګه چې د جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه روایت دی هغــه وایي،چې(( یو کس له رســول الله صلي الله علیه وســلم څخه پوښــتنه وکړه چې اې د الله رسوله صلی الله علیه وســلم ! ته ما وینې چې پنځه وخت فرض لمونځ اداء کوم ، فرضي روژه نیسم ،حلالو ته حلال وایم ، حرامو ته حرام وایم او پر دغو یاد شــو وارو باندې زیاتی نه کوم ، نو آیا زه به جنت ته داخل شــم ؟! نبي علیه السلام وفرمایل : هو ))

د فرایضو اداء کول ، د حرامو څخه ځان ســاتل او د حلالو پېژندنه ســرې د جنت لایق جوړوي دا د الله جل جلاله لوي فضل دی په مسلمانانو باندې.

په ټوله کې موږ دغه میاشــت د عبادت موسم او ســیزن بللالی شو او بس، ځکه چې د دې میاشتې په اخري عشره کې یوه مبهمه ورځ ده،کله چې هغه شــپه په اطاعت سره ویښه تېره شي د زرو میاشتو د عبادت ثواب پرې مرتب کېږي ، لکه چې دغه ټکی ته د القدر په ســورة کې داســې اشاره شوې ده، ژباړه : ((د قدر شــپه د زرو میاشتو نه غوره او برتره ده ))

د روژې میاشــت په همدې ځانګړنو ســربېره نوري ځانګړتیاوې هم لري، دلته یې اجمالي یادونه وشوه.

د روژې میاشــتي قیمتي شــیبې مو نیکمرغه او بختوري شــه ، ښاد آباد او بریالي اوسئ.

# نړۍ کې د ښځو حقونو د ملاتړ کوونکو او روزونکو تاریخ!

محمدعلي عظمت

ایا پوهېږئ چې د بشــریت په تاریخ کې د غصب له ټولو لوی عملیات په دوهمه نړیواله جګړه کې د جرمني له ماتې وروسته وشول، کله چې متفقینو ۲ میلیونه ښځې په زور ونیولې، د متفقینو پوځیانو د هغو ښــځو په اعدام کې کوم ځنډ نه کاوه چې د دوی غوښتنې به یې نه منلې، تر دې چې جرمني د پنځوسمو کلونو تر نیمایي پورې ۳۷ زره ماشــومان یوازې د میندو په نوم ثبت کړي وو!

د تاریخ پوه ویلیام هیچوک په وینــا چې په دېرو وختونو کې به ښځې په مکرر ډول نیول کېدې، داسې ښځې به هم وې چې ۶۰ او ۷۰ ځله نیول شوې وې، ۱۰ زره ښځې د دې کارونو په پایله کې مړې شوې. کله چې یوګوسلاوي سیاستوال میلووان دیګیلاس په دې کارونو نیوکه وکړه نو ستالین وویل: میلووان او د هغه په څېر نور چې زموږ پوځیان بد یادوي دوی باید په دې پوه شي چې هغه پوځــي د مرګونو ، وینو او اور تر منځ زرګونه کیلو متره مزل کړی وي،نو دا حق لري چې له کومې ښځې سره ساتیری وکړي او لږ وخت ورسره واوړي او را واوړي.

تاریخپــوه جیــوري رابرټــس لیکي: ســره پوځ پــه هر هغه ښــار کې چې پرې تېربدل ښــځې یــې نیولې؛ ډېــرې یې په اتریــش او جرمني کــې وې، په ویانــا کې یــې د ۷۰ زرو او ۱۰۰ زرو تــر منــځ ونیولــې او پــه جرمني کې په ســلګونه زره و. رابرټس وایي چې امکان لري جرمني پوځ په ختیځه جبهه کې په لسګونو زره ښځې نیولې وي ، خو وژل د دوی په نسبت یو نمونه یې جرم و. کارول هانګټون لیکي چې: امریکایي پوځیانو به د جرمني ښــځو له نیولو وروســته هغوی ته د خوراک ډالۍ پربښودې، ښایي خپلو ځانونو ته یې دا اجازه ورکوله چې دې کار ته د نیولو نه بلکې د فحاشۍ په نظر وګوري.

دا شاهدي د یو جاپاني تاریخپوه له خبرو سره سمه ده چې وایي: هغو جاپاني ښــځو چې ډوډۍ به یې غوښتله نیول کېدلې او په ځینو وختونو کې به پوځیانو ډوډۍ ورته پرېښوده.

د بریتانوي پوځ یو سخت زړی جنرال چې له پوځ سره به یو ځای و وایي چې د پرله پسې نیولو اندازه ډېره لویه وه؛ بیا وایي: کومې ښځې چې له نیول کېدو رنځېږي ښایي د همدې مستحقې وي.

فرانســوي ځواکونو هم د جرمني په نیولو کــې برخه لرله او د جرمني یوه برخه ځمکه ورته وښودل شوه تر څو ویې نیسي. پیري پیډسکمپ هغه سرشمېرنې را اخلي چې وایي فرانسوي ځواکونو په څو سیمو کې د غصب ۳۸۵ عملیات ترسره کړل. دا د سیلاب یوه څپه ده او څه چې پټ دي له دې ډېر دي... خو تاســې دا په خیال کې راولئ که چېرته دا کار د کوم اسلامي هېواد پوځ کړی و یا لږ تر لږه ځینو مسلمانانو کړی و؟!

دا هغه چا ته واســتوئ چې د دغه دین د سپکاوي او بدنامولو په نندارتون کې په اســلام کې د ښځو د نیولو په اړه غږیږي، سره له دې چې د ښځو نیول کېدل له اسلام مخکې و او اسلام دا کار بند کړ، تر دې چې ډېرې نیول شوې ښځې د امیرانو، پوځي مشرانو، مخورو او خلیفه ګانو میندې شوې او د ازادو مسلمانانو په کورونو کې ورته ارام او عزتمن ژوند ور په برخه شو.

# د نویو طبي او ټولنیزو مسایلو احکام

دویمه برخه - سمسور

۳ـ د (دعا تقدیر بدلوي)

رسول الله ص: (لا یرد القدر الا الدعاء) .

ژباړه: یوازې دعا تقدیر بدلوي/ ردوي.

د دې حدیث شریف مطلب دا دی چې دعا د خیر او ښېګڼې ترلاســه کولو یو سبب دی، ځینې شــیان داسې وي چې له اسبابو سره مقدر او تړلي وي، نو چې سبب قایم شي، مقدر ثابتېږي او که سبب قایم نه شي نو مقدر هم نه ثابتېږي.

کله چې مســلمان له خپل ربه دعا غواړي، نو خیر او ښېګڼه یې په نصیب کېږي او چې کله دعا نه کوي نو بدي ورســره پېښېږي. بالکل هغســې څنګه چې الله تعالی رحم د اوږد عمر سبب ګرځولی او بې رحمي یې د کم عمر سبب بللی. (والله اعلم) .

۴ـ د ناروغۍ له امله د ژړلو او نورو سره د غږېدو حکم!

په دې کې هېڅ خبره نه شــته، خو په دې شــرط چې ژړل به یې نو له ســترګو یې فقط د اوښــکو لوېدل وي او اواز به په کې شــامل نه وي، ځکه نبي کریم صلی الله علیه وســلم د خپــل زوی ابراهیم رضی الله عنه د وفات پر مهال وفرمایل: ژباړه:( له ســترګې اوښــکه بهېږي، زړه خپه کېږي، خو موږ هغــه څه وایو چــې رب تعالی نــه پرې خپه کېــږي او اې ابراهیمه! موږ ستا په بېلتون غمجن یو). [ بخاري: ۱۳۰۳]

د دې مفهوم اړوند حدیثونه ډېر دي.

د خپلې ناروغــۍ په اړه د خپلوانو او دوســتانو خبرولو کې کومه خبره نه شــته، خو په دې شرط چې ته د الله تعالی ثنا وایي، شکر یې ادا کوي، د روغتیا او صحت دعا ترې غواړې او د ناروغۍ د درملنې لپاره جایز اسباب کاروي.

موږ تاسې صبر کولو او د صبر په مقابل کې الله تعالی څخه د ثواب غوښــتلو ته را بولو، نو تاسې په دې زیري خوښ شئ چې په اړه یې الله تعالی وایي:

ژبــاړه: (اې پیغمبره صلی الله علیه وســلم) ووایه: ((اې د خدای بندګانو چــې ایمان مو راوړی دی، د خپل رب څخه ووېرېږئ. کومو کســانو چې په دې دُنیا کې نېک چلند غوره کړی ، د هغو لپاره ښــېګڼه ده او د خــدای ځمکه پراخه ده. صبر کوونکو ته به خپل اجر بې حسابه ورکړل شي.))

همداراز د الله تعالی یو بل ارشاد دی:ژباړه:( او موږ هرومرو په وېره، خطر، لوږه، د ســر او مال په تــاوان او د عایداتو په خســاره کې په اخته کولو په تاســې ازمېښــت کوو، او [اې پیغمبره (ص)!] صبر کوونکو ته زیری ورکړه؛

هغه کســان چې کله ورته کوم مصیبت ورسېږي، نو وایي: ((موږ د الله یوو او د هغــه (الله) لوري ته ور ګرځېدونکي یوو)).

دا هم هغه کســان دي چې د دوی د رب ج له خوا پرې ښښنه او رحمت دی او همدا کسان د سمې لارې موندونکي دي).

د رســول اللــه صلی اللــه علیه وســلم فرمان بیا داســې دی:

ژباړه:( کله چې کوم مســلمان ته څه ملال، رنج، غم، ستړیا او درد رسېږي، یعنې ناروغېږي او څه تکلیف ور رسېږي، ان تر دې چې که اغزی هــم پرې چوخېږي، نو په بدله کې یې الله تعالی ګناهونه ښښي).

په یو بل ځای کې فرمایي:

ژباړه:( چا ته چې الله تعالی د خیر او ښېګڼې اراده کوي، نو هغه په کوم تکلیف او ازمایښت اخته کوي).

۵ـ د ناروغۍ پټول

د مرض پټول له ښکاره کولو غوره دي، خو که له کوم شکایت پرته ښــکاره شي او چا ته یې په اړه وویل شي، نو څه باک نه لري. نبي کریم صلی الله علیه وســلم (د خپلې ناروغۍ په ښکاره کولو سره) ویلي و:

(واه رأساه)

ژباړه:( های! په سر څه شوي دي؟)

نو که له کوم ناروغ وپوښتل شي چې: تا ته د وېرېدو ضرورت نه شته، مګر هسې ستا څه ناروغي ده؟

ناروغ ځواب ورکړي: زه دا او دا ناروغي لرم!

دلته باید د هغه هدف له ناروغۍ شکایت نه وي، بلکې اراده یې د ناروغیو خبر ورکول وي، چې کومه خبره په کې نه شته. نــو دا روا ده چې کوم ناروغ له شــکایت پرتــه ووایي: زه په پلانۍ پلانۍ ناروغۍ اخته یم!

دا خبره هم معلومه ده چې عقلمند او پوه انســان د مخلوق پر وړاندې د خالق شــکایت نه کوي، ځکــه رب تعالی په انســان باندې له هغــه او د هغه له موره هــم زیات مهربان دی.

نو د انســانانو په مخ کې شکایت کول بې صبري ده، مطلب یــې دا دی چې ګیله کوونکی د الله جل جلاله په فیصلې او تقدیر راضي نه دی. یو شــاعر څومره ښه ویلي: ژباړه: او ته چې کله د ابن ادم تر مخه شــکایت کوې نو معنی یې دا دی چې ته د رحیم ذات شــکایت هغه چا ته کوې چې رحم نه کوي.

# بهار فصل رویش و سرسبزی

شاداب

بهــار فصل طراوت و تازه گی، یکی از بهترین فصل های سال است که خوشبختانه در این روزها قدم به قدم بر فصل بهار نزدیک شده میرویم.

آب و هوای فصل بهار زمینه کار و فعالیت را از قبیل زراعت شخم زدن و نهال شانی مساعد می سازد، در این فصل دهقانان بالای مزرعه خویش رفته، آغاز به کار و فعالیت می نمایند.

مواشی که در فصل زمستان از چرا و گردش بازمانده اند، توسط مالداران و گله داران به چراگاه ها برده می شوند، خوشبختانه کشور عزیز ما دارای چرا گاه های خوب و سرسبز بوده که در پرورش حیوانات خیلی ها مؤثر اســت، نهال شانی نیز در فصل بهار صورت میگیرد که اکثراً در مرکز و ولایات کشــور به غرض باغداری هزاران هکتبار زمیــن را نهال غرس نموده کــه معمولاً نهال های میوه دار را نظر به آب و هوای همان منطقه غرس می نمایند، قابل تذکر اســت که نظر به آب و هوای خوب کشور ما میوه افغانستان در سطح کشورهای جهان جایگاه ویژه و خاص خود را دارد به همین منظور است، بیشترین صادرات کشور را میوه خشک وتازه تشکیل میدهد.

یک مورد دیگر کــه بیانگر برتری و ارجحیت آب و هوای کشــور عزیز ماســت تفاوت های موسمی در ولایات مختلف کشور است به گونه مثال نظر به آب و هوا در ولایت زیبای قندهار انار حاصل خوب می دهد و یا این که در کوهدامن زمین و یا ولایت غزنی انگور خوب رشد نموده و حاصل خوب می دهد به همین ترتیب انواع حاصلات زراعتی با ویژه گی های آب و هوا در ولایات مختلف فرقی می کند از همین جهت است که ترکاری، میوه و فراورده های حیوانی از قبیل شیر، ماست، قیماق و ... در هر فصل سال پیدا می شــود. ولایات گرم سیر چون: قندهار، جلال آباد در هر فصل سال ســبزیجات به دیگر ولایت ارسال می نمایند.

در نهایت امر افغانســتان نظر به آب و هوای معتدلی کــه دارد بســتر خوبی بــرای زراعــت، باغداری و دامداری است.

مهم اینست که پروســه و روند زراعت، باغداری و مالداری را در کشور به شــکل مدرن و فنی بسازیم و از طرف دیگر آب های کشــور را مدیریت نماییم، بدون شک افغانستان از جمله کشورهای صادراتی و عرضه کننده مواد خوراکی به دیگر کشور ها خواهد بود.

این در صورتی ممکن اســت کــه دهقانان، باغداران ودامداران حمایت شوند و نیازمندی های شان مرفوع گردد.

در ســال نو معمولاً میله دهقان بــه منظور آغاز کار و سرســبزی و رفتــن بالای مزرعه بــوده، دیگر هر گونه الزامی به عنوان ســال نو و نوروز صبغه دینی و فرهنگی در میان مردم ما ندارد.

مردم عزیز افغانســتان ملت مسلمانی بوده به جز دو عید که آن هم به جاآوری شــکر خداوند اســت به منظور به جا آوری اطاعــت وعبادت الله ج دیگر به هیچ عید و جشن خرافاتی باور ندارند.

# هرات باداشتن محلات تاریخی و فرهنگی توانسته گردشگران زیادی را جذب کند

نوری

مسئولین موزیم و آرشیف هرات گفته اند، که درسال۱۴۰۲ شمسی به تعداد۱۴ هزار گردشگر داخلی و خارجی از موزیم هرات دیدن کرده اند. عبدالجبار نورزی مدیرعمومی ریاست اطلاعات وفرهنگ هرات گفته: شاگردان ومحصلین ازولایات مختلف کشورازموزیم هرات دیدن کرده اند. با تامین امنیت در کشور تعداد سیاحین هم افزایش یافته است. به باور او موزیم هرات بعد از موزیم ملی دومین موزیم در سطح کشور میباشد که آثار زیادی در آن نگهداری میشود. هرات یکی ازولایت های بزرگ افغانستان بوده که در غرب کشور قراردارد. این ولایت باداشتن محلات تاریخی وفرهنگی توانسته گردشگران زیادی داخلی وخارجی راجذب کند.
شهرهرات پس از کابل، دومین شهر پرنفوس افغانستان محسوب می‌شود. هِرات قطب صنعتی ویکی از مهمترین مراکز فرهنگی-هنری افغانستان به شمار می‌آید. رودخانه معروف هریرود از کنار این شهر می‌گذرد و نام هرات از نام این رود گرفته شده است.
این شهرهمراه با کابل، مزار شریف و قندهار، یکی از چهار شهر بزرگ افغانستان به شمار میرود. اهالی آن به زبانهای فارسی و پشتو سخن می‌گویند. چند شبکه تلویزیونی مثل ساقی و هری در این شهر فعالیت دارند. هِرات را در گفتارهای ادبی و رسمی هِرات باستان نیز می‌گویند. این شهر ازنظر منارها و معماری های اسلامی عالی و مجلل خود شهرت دارد و در گذشته و حال، هِرات یکی از مراکز عمدهٔ آموزشی شمرده شده است. این شهر در سال ۲۰۰۹ پس از بررسی شهرهای مختلف جهان توسط سازمان یونسکو شامل برنامه هزار شهر و هزار زندگی این سازمان گردید.بسیاری از شاعران و نویسندگان و عارفان و صوفیان متقدم در این شهر متولد شده و یا زیسته‌اند. با این همه، هرات به دلیل داشتن دو مرز مشترک با کشورهای ایران و ترکمنستان و با دارا بودن بزرگترین شهرک صنعتی ، مرکز تجارتی مهم افغانستان نیزبه شمار میرود. کشورهای که به آثارتاریخی،فرهنگی وموزیم های خوداهمیت داده وسرمایه گذاری کرده اند ازاره جذب سیاحین عواید زیادی رابدست میاورند.
صنعت گردشگری باید بصورت علمی پلان گذاری و مدیریت شود تا اقدامات لازم و هماهنگی های مورد نیاز در سطح شهر توریست پذیر برای ارائه خدمات و امکانات به گردشگران و افزایش منابع عایداتی از این طریق، فراهم گردد. جاذبه های مختلف و متفاوت باستانی، فرهنگی، اجتماعی، طبیعی، برخی از جاذبه هایی که با استفاده از تکنالوژی مدرن در یک شهر توریست پذیر ایجاد می شوند و نیز معماری یک شهر یا دهکده و حتی خود ساکنان آن نیز می توانند جاذبه ای برای گردشگران باشند و هرکدام گردشگران خاص را به سوی خویش فرا بخوانند.عواید مستقیم و غیر مستقیم صنعت گردشگری در شهرها بسیار متنوع اند و باعث ایجاد اشتغال و کار برای مردم محل می شوند؛ از محل سکونت، غذا، ترانسپورت و خدمات مختلف تا فروش تحفه و سوغاتي و موارد مختلف دیگر همه درآمدهای زیادی را در پی دارند که چرخش هرچه بیشتر پول در منطقه توریست پذیر را ممکن می سازد.
وزارت اطلاعات وفرهنگ امارت اسلامی افغانستان هم میتواند که ازتمام امکانات درجهت رشدصنعت گردشگری استفاده کندو خودراباتوریسم وگردشگری کشورهای منطقه همگام وبرابر سازد.

# دخولې بدبويي

ذاهد الله نایل

Halitosis چې په ساده پښتو کې ورته د خولې بدبويي وايي، په نورو وختونو کې هم خو په روژه کې لږ ډېر پېښېدونکی، ناوړه حالت دی، چې ډېری وګړي يې تجربه کوي او په مقابل کې يې د ټولنې له ناخوښه احساس (عکس العمل) سره مخ کېږي.
د دغه حالت په اړه د ټولنې برداشت او عامه پوهاوی ايله تر يو څو خبرو مشهور او محدود دی. هغه دا چې دا ذاتي دی يا چې څوک له خوراک وروسته خوله نه صفا کوي يا نصوار، سګرټ او چلم کاروي، په هغو کې وي. نه! خبره تر دې ځايه نه ده، بلکې د خولې بدبويي هم يو ناخوښه او بد احساس لرونکی طبي/ روغتيايي حالت دی چې د پورته يادو شويو عامه خبرو نه پرته ګڼ نور لاملونه يې هم سبب کيږي.
په انګلستان کې د Aesthetic Smiles په نوم د غاښونو د کتنځي ارقام ښيي چې ۲۰ سلنه وګړي تر يوه حده له دغه حالته کړېږي او تر ۹۵سلنه پورې بيا د ژوند په يوه نه يوه مرحله کې د خولې بدبويي تجربه کوي.
خو دا چې Halitosis ارثي دی، که نه؟ نو د معتبرو روغتيايي/ طبي کتابونو له مخې داسې ۱۰۰ سلنه کره خبره نشو کولی چې هو، دی. البته ځينې څېړنې ښيي چې د Halitosis يو لامل ارثيت يا د جينونو (ارثي خواصو انتقالوونکي کوډونو) تغير هم دی.
په دغه لړ کې د کاناډا د مونټريال پوهنتون (University Of Montreal) موندنې ښيي چې د خولې بدبويي ارثي هم ده. د څېړنيز ټيم مشر يې ډاکټر جين پري کرن وايي چې د تايرايډ (چې دا جاغور يې مشهوره ناروغي ده) غدې ارثي عدم توازن د Halitosis سبب کېږي، پرته له دې چې د ژوند طرز (Life Style) مو غير صحي او د خوړو انتخاب مو خراب واوسي.
دغه راز په نيدرلينډ کې بيا د Radbound پوهنتون څېړونکيو يوه هالېنډۍ کورنۍ، چې ډېری غړو يې د خولې بدبويي لرله، تر څېړنې لاندې نيولو وروسته د خپلو موندونو په يوه برخه کې څرګنده کړل چې: د SELENBP۱ په نوم جين کې تغير د هغه پروټين له منځه خوړلو سبب کېږي، کوم چې د سلفر مرکبات «Methanethiol» تبديلوي. دا د سلفر مرکبات د هغو بکترياوو توليد دي، چې د خولې د بدبويي لامل کېږي.
نو چې د دغو بدبويي د ختمولو لپاره مربوط پروټين نه شته. نو معلومه شوه چې Halitosis د جنيټيکي خرابۍ له کبله هم دی.
دا چې د خولې بدبويي ارثي ده يا نه ده؟ دا بېله خبره ده، خپله د خولې بدبويي ساري نه ده. خو هغه بکتريا (مکروب) چې د خولې د بدبويي لامل کېږي، له مختلفو لارو لکه: ښکولولو، د لوښو شريکولو، د بل چا د غاښونو برش له کارولو او حتی له کورنيو (اهلي) حيواناتو، يو کس نه بل ته انتقالېږي. نو بايد چې دغو موارد ته پوره پاملرنه وکړو او له يو نسل نه بل ته د ارثي انتقال په اړه تازه، په کليفورنيا کې د Dailley Dental Care په نوم د غاښونو د تداوي مرکز، ډاکټر، انتوني ډايلي وايي، چې داسې جين هيڅ نشته چې په Halitosis مبتلا والدينو نه دې دا مرض اولاد ته انتقال کړي. نومورې زياتوي، چې ځينې هغه معلوم / ښکاره ارثي حالات چې په مور او پلار کې وي، هم د دې ضمانت نه کوي چې دغه شی په اولاد کې هم واوسي او دوی کې د خولې بدبويي پيدا کړي.
د ارثيت او انتقال له بحث ور ها خوا، هغه حالتونه، فکټورونه او اسباب چې Halitosis ترې پيداکېږي او ټولنه ورته متوجه نه ده، دا دي:
۱ – د خولې خرابه حفظ الصحه: په کافي اندازه د غاښونو نه برش او نه فلاس (د تارونو يا ځانګړي چنګک داري آلې په ذريعه د خولې صفايي) کول په خوله کې د هغو بکترياوو د ځای موندنې سبب کېږي چې بدبويي رامنځته کوي.
۲ ـ د بکترياوو وده: په خولې کې دغه بدې بکترياوې (مکروبونه) د سلفر د مرکباتو د توليد لامل کيږي، کوم چې د دغه ناخوښه بوی عمده سبب دی.
۳ –د خولې وچوالی: دا چې لاړې خوله لمده ساتي او هم يې صفايي کې مرسته کوي، خو که کله د تندې يا د وجود د اوبو د ضياع او يا هم د ځينو درملو له امله مو خوله وچه پاتې کيږي، يعنی د لعابو جريان کمېږي، نو پايله يې د خولې بدبويي ده.
۴ ـ د خوړو بد عادت: تېز بوی لرونکي خواړه لکه هوږه، پياز او نور، کارول هم په موقت ډول د خولې د بدبويي لامل کيږي.
۵ – د دخانياتو او تنباکو کارول: دخانيات، سيګرټ، سيګار، نصوار او چيلم نه يوازې دا چې د خولې د بدبويي سبب ګرځي، بلکې په خوله کې د ووريو د ناروغي او په بدن کې د نورو خطرناکو ناروغيو لامل هم دي.
ځينې روغتيايي ستونزې او مرضونه:
۱ – په تنفسي ناروغيو کې سيانيوزيټ، د برانکسونو التهاب او سينه بغل (نمونيا) کې د خولې بدبويي د هغو انتاناتو (مکروبونو) له کبله وي چې ځينې بدبويه کيمياوي مواد ازادوي.
۲ – هغه هضمي ناروغۍ چې د معدې تيزاب په کې مرۍ او خولې ته راځي، نو د خولې خوند تيزابي او بدبويي منځته راوړي. دغه راز نورې ګڼې هضمي بدنظمۍ چې معده او کولمې اغېزمنوي، هم د Halitosis سبب ګرځي.
۳ ـ شکر چې کنټرول و نه ساتل شي، نو يو مخصوص حالت منځته راوړي چې په هغه کې زيات کېټونونه توليدېږي، کوم چې خاصه بدبويي لري.
۴ – د ځيګر ځينې ناروغيو، لکه Cirrhosis (د ځيګر جال جال کېدل) چې زياتره د تور زيړي له کبله پيدا کېږي، کې هم ځينې داسې مواد په بدن کې ازادېږي، چې د بدبويي لامل وي.
۵ ـ د پښتورګيو په عدم کفايي يا نورو پرمختلليو ناروغيو کې يې هم بدن کې د زهريه موادو د تجمع له کبله، Halitosis منځته راځي.
